SHTAMANAI

شنبه | ۲۷ صفر المظفر ۱٤٤٤ / ۲ میزان ۱٤۰۱ | ۲٤ سپتامبر ۲۰۲۲ | سال اول | شماره ۲۸ | ٤ صفحه

۱

**درنو هيوادوالو!**

ستاسو د مالياتو پيسې د هيواد پر اقتصادي پراختيا، رغونه، جوړونه، د ښوونکو، ډاکترانو او امنيتي ځواکونو پر تنخواؤ لګول کېږي؛ خپله ملي دنده ترسره کړئ، د مالياتو په ورکړه سره د هيواد اقتصاد او راتلونکی تضمين کړئ.

سرمقاله

## د شفافي او غوره حکومتولۍ پر لور بل ګام

زموږ هيواد ورځ تربلې د شفافي او غوره حکومتولۍ پر لور ګامونه پورته کوي. غوره حکومتولۍ ته لاره هواروي او د استعدادونو په لټه کې دئ. دا د شفافيت موضوع ځکه په وار - وار تکرار وو، چې په دې برخه کې هلې ځلې رواني دي او د ماليې وزارت رهبري له پوره توانه کار اخلي. بېلګه به يې د ماليې وزارت د عوايدو عمومي رياست څو ورځې وړاندې د کابل په شمول په ۳۴ ولايتونو کې د (۱۰۵۸) اعلان سوو بستونو له نوماندانو د کانکور ازموينه اخيستل وبولو او بيا د کابل په شمول په ۳۴ ولايتونو کې په بېلابېلو وختونو کې د انټرويو يا تقريري ازمويني اخيستنه ده. د ماليې وزارت څو مياشتي وړاندې د کابل په ګډون په ۳۴ ولايتونو کې د اصنافو د تثبيت کارکوونکي (۱۰۵۸) قراردادي بستونه د ازادي سيالۍ ازمويني اخيستو په موخه اعلان ته سپارلي وو، چې ۳٦۰۰۰ تنه نوماندانو دغو بستونو ته نوم ليکنه کړي وه، چې له دې ډلي څخه ۱۸۰۰۰ تنه شارټ ليسټ، ۹۰۰۰ کسان پر شرايطو برابر او له چاڼ وروسته ۷۸۰۰ کسان د ځانګړي لينک له لاري پر شرايطو برابر وبلل سول او ازموينه هم ترې واخيستل سوه. همدا شان له ذکر سوي شمېر څخه (۲۵۲۷) تنه د ازمويني له اخيستو وروسته بريالي وپېژندل سول، چې (۱۰۵۸) تنه به په همدغو تشو بستونو کې ځای پرځای او (۲۹۰) تنه نور به په ريزرف بڼه پاته وي، چې شرايطو ته په کتو سره به له دغو کسانو څخه کار واخيستل سي.

د دې ترڅنګ د ماليې وزارت په يوه بل اقدام کې دوې درې ورځې وړاندې په هيواد کې د بې اسناده او د افغانستان لاس نه لرونکو موټرونو ته د اسنادو ورکولو او قانوني کولو د طرحي جوړولو کنفرانس را وغوښته او د دغي طرحي موارد يې په ډاګه کړل. په هيواد کې د بې اسنادو موټرو د ثبت او محصول پروسې د پيل په تړاو خبري کنفرانس د ماليې وزارت په خيبر هال کې تر سره سو. د ماليې وزارت مسؤلينو يادونه وکړه، چې په ټول هيواد کې په لويه کچه بې اسناده موټر شتون لري، چې اکثره وخت د امنيتي او جنايي پېښو د رامنځته کېدو سبب ګرځي او دولت ته د بې اسنادو موټرو د قانوني محصول نه تحويلول د ملي عوايدو د تيښتې سبب ګرځي. دوی له رسنيو سره په خبرو کې وويل، چې د عوايدو لوی رياست له لوري د جوړې سوي طرحي د عملي کېدو په صورت کې به په امنيتي او ترافيکي برخو کې ستونزي له منځه ولاړې سي. په ملي عوايدو کې به زياتوالی راسي او ورسره به د خلکو اقتصادي او ټولنيزې ستونزې کمې سي او په ټوله کې به په ياده برخه کې لازمي اسانتياوي اونظم رامنځته سي. د پورتنيو خبرو څخه دا څرګندېږي چې د ماليې وزارت د شفافيت او غوره والي پر لور ګامونه اخلي، د ځان بيسا او متکي کېدا لپاره هڅې کوي او غواړي چې په هيواد کې د جرايمو کچه را کښته کړي، بې اسناده موټر قانوني کړي محصول، د ملي عوايدو د تيښتې مخه ونيسي، امنيتي او ترافيکي برخو کې ستونزي له منځه يو سي، په ادارو کې ګمارني په شفاف ډول تر سره کړي، روڼتيا او ژمنتيا رامنځته کړي، کار اهل کار ته وسپاري او له بېلابېلو ګټورو لارو څخه په ګټې اخيستني سره، وړ، متعهد، رښتيني او مسلکي کسان په خپلو اړوندو ادارو کې په دندو وګماري.

درنښت

اداره

# له کسبګرو او دوکاندارانو څخه د ماليې وزارت ملاتړ غونډه ترسره سوه




له کسبګرو او دوکاندارانو څخه د ماليې وزارت د عوايدو عمومي رياست ملاتړ غونډه په انټرکانټيننټال هوټل کې د لوړو پوړو دولتي چارواکو په ګډون ترسره سوه. په دې غونډه کې چې د ماليې وزير الحاج ملاهدايت الله بدري، د رئيس الوزراء مرستيال مولوي عبدالسلام حنفي، د صنعت او سوداګرۍ وزير نور الدين عزيزي، د عوايد عمومي رئيس معراج محمد معراج، رئيسانو، مستوفيانو، کسبګرو د ټولنې استازو، د پوهنتون استادانو او د ماليې وزارت کارکوونکو ګډون کړی وو. په پيل کې د ماليې وزير الحاج ملاهدايت الله بدري، ګډونوالو ته د ښه راغلاست ترڅنګ وويل: خوښ يم چې د ماليې وزارت له لوري، د هيواد د اقتصادي خوځښت د يوې ستري کتلې (کسبګر او دوکاندارانو) د ملاتړ په دې ناسته کې ګډون کوم. د ماليې وزارت يوه ستره موخه د سوداګرو، پانګوالو او کسبګرو ملاتړ کول دي، چې بېلګه يې د ماليې د نورم راښکته کول دي. د ماليې وزارت په دې موخه غوره خدمتونه وړاندې کړي، چې د ژوند سهولتونه رامنځته سي، په بازارونو کې قيمتونه مناسب وساتل سي، د ماليه ورکوونکو د ماليې تثبيت په شفاف ډول ترسره سي او د اصنافو په ماليه کې له ټولو سره يو شان چلند وسي. نوموړي زياته کړه، چې د ماليې وزارت دروازې د خلکو پرمخ پرانيستې دي، هره هغه ستونزه به له منځه يوسوؤ، چې ماليه ورکوونکي ورسره مخ وي. نوموړي؛ له ماليه ورکوونکو څخه هم هيله وکړه، چې د ماليې په تثبيت کې مرسته وکړي او په مشترک ډول له روانو ناخوالو هيواد وباسو او اقتصادي پرمختګ رامنځته سي. ورپسې د عوايد عمومي رئيس معراج محمد معراج، د ملي عوايدو پر عمومي وضعيت رڼا واچوله وې ويل، چې موږ په بشپړ اخلاص د کسبګرو، دوکاندارانو، ملي سوداګرو او پانګوالو ملاتړ کوو، تسهيلات ورته رامنځته کوو او هڅه وو يې چې خپل عوايد له دولت سره شريک کړي. ده زياته کړه؛ اسلام امارت پر خپلو ژمنو ولاړ دئ، چې د ماليې د نورم په نيم کښته کولو او د وزارت په کچه د فساد په کمولو سره يې دا ثابته کړې هم ده. ده زياته کړه، چې له خپلو ملي عوايدو د ملي بوديجې بشپړول کلک هوډ، ګډې همکارۍ، ملي احساس او يوې پياوړې ارادې ته اړتيا لري او د ماليه ورکوونکو پر مټ دا کار هم ثابت سو. نوموړي، له کسبګرو او ماليه ورکوونکو سره ژمنه وکړه، چې ستاسو يوه افغانۍ به هم بې ځايه ونه لګول سي، څو که تاسو يوه افغانۍ ماليه بې ځايه ضايع کوئ، په دې معنی چې د ۴۰ ميليونه انسانانو حق مو خوړلی دئ. د رئيس الوزراء مرستيال مولوي عبدالسلام حنفي، هم د کسبګرو او دوکاندارانو د کړنو د ارزښت بيانولوترڅنګ زياته کړه، چې د کابينې د ځانګړې لوريېنې له مخې د مالياتي نورم را کمول يو نېک کار دئ. دغه چاره په بازارونو کې د خوراکي توکو پر ارزښت هم اغېز کوي، هيله ده چې دوکانداران يې عملي کړي او ملت يې هم ګټې حس کړي. ده زياته کړه، چې د دولت او سوداګرو له لوري د ملت په حق کې هر نېک کار بايد وستايل سي او يو د بل پر مټ ملت او دولت په پښو ودروو. د کابل د اصنافو د اتحاديې رئيس صديق الله قريشي، هم خبري وکړې او زياته يې کړه، چې له دولت سره د خلکو همکاري او شتون ناکامي نه ده، بلکې دا ملت له مجاهدينو سره اوږه پر اوږه درېدلی او اوس د غوره کاري فرصت تمه ترې لري. ده زياته کړه، چې خلک ماليه جبري بولي، ځکه چې تېرو نظامونو بنسټيز کار نه دئ ورته کړی او اوس له تاسو د عدالت او انصاف غوښتنه کوي، ترڅو د ورکړې ماليې ګټې په سترګو ووينې. هېره دې نه وي، چې په دې ناسته کې يو شمېر ګډونوالو د ماليو د ورکړې، پر ارزښت، اسلامي اړخ، نړيوالو معيارونو او اوسني وضعيت ته په کتو په خپل وار پراخې ويناوې وکړې او پای کې يو شمېر مستوفيانو ته د دوی د ښو کړنو له کبله ستاينليکونه هم ورکړل سول


امارت اسلامی افغانستان
وزارت ماليه
رياست ارتباط و آگاهی عامه

**اطلاعيۀ در رابطه به پرداخت ماليات شرکت‌ها و تمويل بودجۀ دولت و بيت‌المال**

رياست عمومی عوايد وزارت ماليه به اطلاع عموم مسؤلان محترم شرکت‌ها می‌رساند، اينکه در زمينه حفاظت و نگهداری از تمامی اسناد اداری (خريداری، فروشات، معاشات وغيره) شرکت‌های خويش جداً توجه نمايد، زيرا در صورت قصور و کوتاهی عواقب آن برای تان مفيد واقع نخواهد شد.
مطابق مادۀ چهارم قانون ماليات بر عايدات، بيست فيصد (خمس) عوايد قابل ماليه اشخاص حکمی در سال مالی قابل پرداخت به حساب وزارت ماليه می‌باشد. بناءً اشخاص موصوف مکلفيت دارند، تا به اسرع وقت مکلفيت‌های خويش را تصفيه نمايند.
ماليات در راستای تمويل بودجۀ دولت و ارائۀ خدمات به ملت حصول و به بهره برداری سپرده می‌شود.
ماليات بخشی از بيت‌المال می باشد؛ بيت المال: مالی است که همه مسلمانان در آن حق دارند.
وجه تسميۀ بيت‌المال: با توجه به اينکه در گذشته برخی از اموال و درآمدهای دولت اسلامی در خانه‌های امنی قرار می‌گرفتند تا به موقع در راه رفع نيازهای مردم و اجتماع صرف گردند، نام آن درآمدها به مناسبت محل امن آن‌ها به عنوان بيت‌المال خوانده شد.
مصاديق بيت‌المال در اسلام: بيت‌المال مصاديق فراوانی دارد که مهمترين آن‌ها زکات، عشر، خمس، خراج، جزيه، ماليات، ثروت‌های عمومی، اموال ادارات، سازمان‌ها و مؤسسات دولتی و... می‌باشند.
جهت کسب معلومات مزيد، می‌توانيد با شمارۀ (۱۰۰۰) مرکز خدمات تماس ماليه دهندگان رياست عمومی عوايد وزارت ماليه و يا ايميل آدرس (info.ard@mof.gov.af) ارتباط برقرار نمائيد.

**ماليۀ ما، کشور ما، آيندۀ ما**


د افغانستان اسلامي امارت
د ماليې وزارت
د اړيکو او عامه پوهاوي رياست

**د برېښنايي مالياتي اظهارليکونو د وړاندي کوونکي سيستم يا (e-Filing) د روزني خبرتيا!**

ټولو سوداګريزو شرکتونو ته خبر ورکول کېږي، چې د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست اړوند درې ګوني (د لويو، منځنيو او کوچنيو ماليه ورکوونکو) رياستونه د ماليه ورکوونکيو د خدمتونو رياست تر يوه نامه لاندي سره مدغم سوي او د منځنيو ماليه ورکوونکيو رياست پخوانۍ ودانۍ ته انتقال سوي دي.
همدا راز د فزيکي مالياتي فورمو د وېش بهير په ټپه درول سوی دئ او په بدل کي يې ماليه ورکوونکي د برېښنايي مالياتي اظهارليکونو وړاندي کوونکي سيستم يا (e-Filing) له لاري خپل مالياتي راپورونه وړاندي کولای سي.
په همدې ډول ټولو سوداګريزو شرکتونو ته خبر ورکول کېږي، چې د دوشنبې او چهارشنبې ورځو پر لسو (۱۰) بجو د (e-Filing) خدمتونو په روزني کي د ګډون لپاره برخه واخلي.
پته: د ماليه ورکوونکيو د خدمتونو رياست د غونډو تالار، د ملي بس تصدۍ د رياست ودانۍ، کابل - افغانستان
وخت: هره دوشنبه او چهارشنبه - د ورځي (۱۰) بجې.

**زموږ ماليه - زموږ هېواد - زموږ راتلونکی**



**د ګمرکي عوايدو د لومړيو شپږو مياشتو ارزونه وسوه**

م ۲



**روند ثبت و محصول موتر های بدون اسناد در کشور آغاز شد**

م ٤



**افزايش صادرات افغانستان نسبت به گذشته**

م ۳



**د يو شمېر وارداتي اقلامو د تعرفې په اړه پرېکړې وسوې**

م ٤



**د عوايدو عمومي رياست سلګونو بستونو له نوماندانو اينټرويو ازموينه واخيستل سوه**

م ٤

## سفر کاری رئیس عمومی عواید به برخی ولایات زون شمال شرق افغانستان

معراج محمد معراج رییس عمومی عواید وزارت مالیه به منظور ارزیابی فعالیت های مستوفیت ها و ادارات عایداتی برخی از ولایات شمالی چون سمنگان، کندز، تخار، بدخشان و بغلان دیدار کرد. در این سفر که شماری از مسئولین نیز با وی همراه بودند،ضمن



دیدارو صحبت با کاندیدان تثبیت و درجه بندی اصناف و دکانداران که از طریق امتحان کانکور موفق شده بودند با استفاده از موقع از تمام شعبات مستوفیت های ذکر شده بازدید نموده دستورات لازم را برای آنها جهت بهبود هرچه بهتر امور ارائه نمود. رییس عمومی عواید در جریان این سفر کاری با والیان و معاونین آنها، نمایندگان کسبه کاران و انجمن های اصناف و رؤسای سکتور های مختلف بالخصوص با رؤسای که عواید غیر مالیاتی را جمع آوری می کنند دیدار و به آنها توصیه نمود که عواید غیر مالیاتی را در وقت معین آن به بیت المال و خزانه دولت بخاطر تأمین هزینه های دولت تحویل دهند رییس عمومی عواید وزارت مالیه در جریان دیدارهای رسمی از بند برق شورابک ولایت بدخشان نیز بازدید کرد که سوی مقامات محلی این بند برق نیز معلومات جامع داده شد. شایان ذکر است که مسئولین بلند پایه وزارت مالیه روند کار گمرکات و مستوفیت های کشور را ارزیابی کرده و خدمات خوب و کار صادقانه را به مسئولان توصیه می کنند.

## د گمرکي عوایدو د لومړیو شپږو میاشتو ارزونه وسوه

د گمرکونو لوی رئیس ښاغلي مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ ناستي د گمرکونو او عوایدو معینیت د غونډو په تالار کي د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کي د گمرکي عوایدو ارزونه وکړه او د راتلونکو شپږو میاشتو لپاره یې د هر گمرک په تفکیک سره د عوایدو راټولیدو هدف وټاکه. په دې ناسته کي د مالیې وزارت د مالي پالیسۍ او لوی اقتصاد لوی ریاست سرپرست ښاغلي حسین الله احمدزي، د مالیې وزارت مقام سلاکار ښاغلي خلیل صالحزاده، د گمرکونو لوی ریاست مرستیالانو او یو شمېر رئیسانو گډون کړې وو. د یادوني وړ ده، چي هر کال په گمرکونو کي د لومړیو شپږو میاشتو د صادراتو او وارداتو حجم او د تر لاسه سوو عوایدو ارزونه کیږي او په همدې اساس د راتلونکو شپږو میاشتو لپاره د عوایدو راټولیدو هدف ټاکل کیږي.



## د گمرکونو د ارزوني په موخه تخنیکي ناسته جوړه سوه

د گمرکونو او عوایدو معین حاجي ملا محمد ناصر اخند، په مشرۍ د معینیت د غونډو په تالار کي ناسته ترسره سوه، چي موخه یې د هیواد د گمرکونو تخنیکي ارزونه وه. په دې ناسته کي د گمرکونو لوی رئیس مفتي عبدالمتین سعید، د گمرکونو تخنیکي او حمایوي مرستیال، د مرکزي اداري یو شمېر رئیسانو او د ولایتي گمرکونو مسؤلینو گډون کړی وو. په پیل کي د گمرکونو او عوایدو معین ټولو گډونوالو ته د ښه راغلاست تر څنګ په گمرکونو کي د شته ستونزو د حل لپاره د دا ډول ناستو جوړول اړین یاد کړل. نوموړي په گمرکونو کي د سوداګرو لپاره د لا اسانتیا په رامنځته کولو ټینګار وکړ او د ولایتي گمرکونو مسؤلینو ته یې سپارښتنه وکړه چي د سوداګرو



ستونزي واوري او د حل لپاره یې اقدام وکړي. همداشان له اجنډا سره سم د گمرکونو لوی ریاست د پلان جوړوني، پالیسۍ، څارني او ارزوني رئیس عبدالرحمن وقاد د روان کال د زمري په میاشت کي د عوایدو راټولیدو، د هیواد په ټولو گمرکونو کي تر سره سوي سوداګرۍ، د وارداتي توکو گمرکي ارزښت او د سوداګریزو محمولو د شمېر او ثبت سوي وزن په اړه غونډې ته د ارزوني راپور وړاندې کړ، چي د غونډې گډونوالو د یاد راپور په بېلا بیلو اړخونو بحث وکړ او په اړه یې د ولایتي گمرکونو مسؤلینو ته لازمي سلا مشورې ورکړل سوې. په دې ناسته کي د هیواد په گمرکونو کي سوداګرو ته د نورو اسانتیاو په رامنځته کېدو او د گمرکي پروسو اسانه کولو په اړه هم بحث او خبري وسوې. د ولایتي گمرکونو مسؤلینو هم په خپل وار سره په یادو گمرکونو کي د شته ستونزو یادونه وکړه او همداشان یې د سوداګرو لپاره د لا اسانتیا په رامنځته کېدو او د ملي عوایدو د زیاتوالي په اړه خپل نظرونه او وړاندیزونه شریک کړل. د یادوني وړ ده، چي د گمرکونو لوی ریاست هره میاشت د هیواد په گمرکونو کي د تر سره سوو فعالیتونو تخنیکي ارزونه کوي څو شته ستونزي روښانه او د حل لپاره یې اقدام وکړي.

## تورخم گمرک کي د ښځینه وېښتانو لسګونه بوجۍ ونیول سوي



د مالیې وزارت د گمرکونو د ساتني او څانګړو عملیاتو تنفیذي قطعې مېړنیو سرتېرو د ننګرهار تورخم گمرک کي د قاچاق د مخنیوي په یوه نادره پېښه کي د ښځینه د سر وېښتانو لسګونه بوجۍ کشف او ترلاسه کړي دي. دغه په لسګونو بوجۍ ښځینه وېښتان چي په پټه گاونډي هیواد ته قاچاق کېدل د گمرکونو د سرښندونکو ځواکونو له لوري نیول سوي، چي په بېلابېل ډوله بار وړونکو موټرونو کي ځای پر ځای سوي وو. د تورخم گمرک د مسؤلینو په خبره ویل کېږي، چي د وېښتانو ترڅنګ په ستره کچه د هیواد قیمتي ډبري هم ترلاسه سوي دي. د دې ترڅنګ په سپین بولدک سرحدي گمرک کي ۱۰ کارتنه درمل چي پرته له گمرکي محصول ورکولو هیواد ته واردېدل کشف او نیول سوي دي. د یادوني وړ ده چي د انسان د سر وېښتانو پېر، پلور او قاچاق د انساني کرامت او حرمت ته په کتو شرعاً او قانوناً ممنوع دئ.

### د شیر خان بندر د گمرک امنیتي مسؤلینو د هینجي د تخم غیر قانوني را واردولو مخه نیولې



د مالیې وزارت د گمرکونو د ساتني او ځانګړو عملیاتو تنفیذي قطعې منسوبینو د کندز ولایت د شیرخان بندر گمرک کي په یو ټېلر موټر کي چې د ډبرو سکاره پکښې بار ول (۴۲۷) کیلو د هینجي تخم چي محصول یې نه وو تحویل سوی او په غیر قانوني توګه هیواد ته واریدېدل کشف او د لېږد مخه یې نیول سوې ده. د یادوني وړ ده، چي هېنجي یو ډول زراعتي نبات دئ، چي د درمل په جوړونه کي ګټه ترې اخیستل کېږي او عموماً د افغانستان په شمالي ولایتونو کي د هېنجي زراعتي بوټي زیات کرل کېږي.

شتمنی
SHTAMANAI

# له کسبگرو او دوکاندارانو څخه د ماليې وزارت په ملاتړ غونډه کي د ماليې وزير الحاج ملا هدايت الله بدري وينا

محترمو او معززو ميلمنو، علماء کرامو، د اسلامي امارت د کابينې محترمو اعضاوو، د پوهنتونو استاذانو، د رسنيو استازو او ټولو حاضرينو!
السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

خوښ يم چي يو ځل بيا د خلکو او هيواد لپاره د اقتصادي هوساينې په موخه سره راغونډ سوي يو، يو او بل د ښه خدمت په موخه ستايو او د کومک ډاډ ورکو، موږ تل هڅه کوو او کړې موده، چي د هيواد او خلکو لپاره سهولتونه رامنځ ته کړو، ترڅو هيواد مو ښه اقتصاد ولري، ولس مو په اقتصادي فعاليتونو کي برخه واخلي او د ښه ژوند زمينه ورته برابره سي.

د ماليې وزارت د اصنافو مالياتي نورم په بې ساري ډول راټيټ کړ، دا ددې لپاره ترڅو اصنافو ته د کاري فرصت زمينه نوره هم برابره سي، ځوانان کاروبار ته وهڅول سي، او د هيواد د وګړو د لومړنيو ضرورتونو او غذايي موادو قيمتونه مناسب وساتل سي.

پر دې سربيره هغه ماليه ورکونکي، چي ماليات يې په سمه توګه ارزول سوي نه دي او يايې په کاروبار کي تغير راغلی، د مسئولو کسانو له خوا به يې له سره په سمه توګه د ماليې تثبيت وسي تر څو له دې امله زيانمن نه سي.

د ماليی وزارت او اړوندي اداري يې د ماليې په راټولولو کي د شفافيت او اسانتيا رامنځ ته کولو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکوي. پوره شفافيت را وستو ته ژمن دي او له هر ډول فساده سره به جدي مبارزه کوي، د ماليې د تاديې په پروسو کي به لازمي اسانتياوي عملاً رامنځته کوي او د برېښنايي سيستمونو اسانتياوي به برابروي.

د شکاياتو د اورېدلو لپاره د دې وزارت او اړونده ادارو دروازې تل د مراجعينو پر مخ خلاصي دي، که څوک شکايت ولري په اړه يې اړين اقدامات کيږي.

د اصنافو د ماليی په راکمولو سره د ددې فرصت رامنځ ته سو، چي له ټولو اصنافو سره يو رنګ چلند وسي او هغه اصناف چي د ماليې د ورکړي څخه فرار کوي مخنيوی يې وسي. د ټولو اصنافو د ماليې تثبيت وسي او ټول اصناف يو ډول د دې ټيټ مالياتي نورم څخه برخمن سي.

د اصنافو د ماليی د تثبيت د پروسی د تحقق په منظور د (۱۰۵۸) کارکونکو لپاره ضرورت وو، چي د استخدام پروسه يې په ولاياتو کي تکميله سوې او په کابل کي به په راتلونکو څو ورځو کي تکميله سي. موږ د دې هدف په لاسته راوړلو کي د رياست الوزرا د محترم مقام او د ياد مقام د محترمو معاونينو څخه ډېر منندوی يو، چي په دې اړه يی لازمه مرسته وکړه او د ضروري بوديجې د تخصيص منظوري يې راکړه. همدا رنګه د امتحاناتو د ملي کميټې له محترم مشرتابه او همکارانو څخه مننه کوو، چي له کانديدانو څخه يې په مرکز او ولاياتو کي په شفافه توګه تحريري امتحان واخيست او نتايج يې شريک کړل.

له محترمو ماليه ورکونکو څخه هيله منديو چي د تثبيت په پروسه کي ددې وزارت له کارکونکو سره پوره همکاري وکړي. د ماليې ورکړه يو اجتماعي او ملي مکلفيت دئ او له دې سره به اداري وکولای سي، چي لا ښه خدمتونه وړاندي کړي، د خپل هيواد په اقتصادي بيارغونه کي برخه واخلئ او د ماليې د ورکړي څخه فرار مه کوئ. لکه څنګه مو چي د ماليې نورم په بيساري ډول راټيټ کړ په همدغه شکل به زموږ تل دا هڅه وي چي تاسو ته لازم سهولتونه برابر کړو.

**د يوه ځان بسيا افغانستان په هيله**
**ستاسو د ټولو د پاملرني څخه مننه**

# افزایش صادرات افغانستان نسبت به گذشته



پس از حاکمیت دوباره امارت اسلامی افغانستان، صادرات گمرکی، ترانزیت و محموله های صادراتی افزایش چشمگیر را داشته است در طول یک سال گذشته به ارزش (۱۳۳) میلیارد افغانی صادرات صورت گرفته، در حالی که ارزش گمرکی صادرات حکومت قبلی در طول یک سال (۶۸) میلیارد افغانی بوده است که این امر نشان دهنده افزایش ۶۵ میلیارد افغانی صادرات امارت اسلامی در یک سال گذشته را نشان میدهد.

به همین ترتیب، افزایش قابل ملاحظه در سطح محموله های صادراتی و ترانزیتی نیز مشاهده می شود. که تعداد محموله‌های صادراتی حکومت قبلی به ۶۲۲۹۴ می رسید، در حالی که در حکومت یک ساله امارت اسلامی (۱۸۳۸۸۴) محموله صادر شده است که نسبت به قبل افزایش محموله‌های صادراتی به (۱۲۱۵۹۰) رسیده است در طول حکومت یک سال امارت اسلامی (۵۶۹۶۴) محموله ترانزیتی و در طول یک سال حکومت قبلی (۱۵۵۷۴) محموله های ترانزیتی از کشور عبور کرده است، که ارقام حکومت قبلی (۴۱۳۹۰) کمتر از حکومت حاکم امارت اسلامی را نشان می دهد.

## په کندهار کي د نا محصوله توکو د واردولو مخنيوی وسو



د ماليې وزارت د ګمرکونو د ساتني او تنفيذي قطعې د کندهار ګمرک امنيتي مفرزې ځواکونو د يو لړ عملياتو په پايله کي ٦ عرادې مختلف النوع وسائطو کي چي (۲۰۰ بوری نخود ، ۲۹۰ کارتنه شيدې، ۲۰۰ بنډله خالي کارتن، ۸۰ بوری د بوټو تلي، (۵۰) دېرش لېټره ډبې د رنګ تېزاب) پکښې بار وو او ګمرکي محصول يې نه وو تحويل کړی؛ هيواد ته د را اوښتو پرمهال نيولي.

د يادوني وړ ده، چي هر هغه څه چي په ګمرکونو کي محصول نه سي د ګمرکونو د قانون له مخي قاچاق او غير قانوني دي او د ماليې وزارت د ګمرکونو د ساتني ځواکونه مکلف دي، چي هغوی ونيسي او د قانون منګولو ته يې


### به اعلان سپردن دو جایداد دولتی

ریاست عمومی املاك دولتی وزارت مالیه دو جایداد دولتی ذیل را در مرکز به طور جداگانه بشکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی سپرده است.

۱. موازی ۴۹۷.۷۴ متر مربع واقع منزل اول تعمیر مخروبه نساجی بگرامی
۲. یکباب خبازی معه یکباب دوکان خوارکه فروشی بمساحت مجموعی ۶۴.۷۸۵ مترمربع واقع سرتپه کارته نو

اشخاص حقیقی وحکمی که خواهان اشتراك در پروسه داوطلبی جایداد های فوق را داشته باشند، میتوانند سر از تاریخ ۲۶ سنبله الی مدت (۲۱) روز درخواستی های شان را به ریاست محترم عمومی املاك دولتی واقع تعمیر ١٤ منزله سینما پامیر ، منزل هفتم مدیریت عمومی قراردادهای مرکز تسلیم نموده، وبعداز ملاحظه اسناد شرطنامه را دربدل مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمایند.

### اعلان داوطلبی

#### اعلان داوطلبی پمپ استیشن

شرکت دولتی ملی بس درنظر دارد یک باب تانك تیل ملکیت خویش را واقع چهاراهی دهمزنگ ، ناحیه سوم شاروالی کابل با ملحقات آن که شامل پایه های توزیع تیل و گاز میباشد. از طریق داوطلبی برای مدت (۳) سال به کرایه بدهد، شرکتهای تجارتی ، لوژستیکی ویا گاز تخنیکی که مطابق فصل سوم ماده شانزدهم قانون تدارکات واجد شرایط باشند. درخواستی های شانرا ضم فوتوکاپی جواز معتبر وتذکره تابیعت سر از تاریخ ۲۲ سنبله الی مدت (۲۱) یوم تقویمی به مدیریت عمومی قرارداد جایدادهای شرکت دولتی مسافربری ملی بس واقع زنده بانان تسلیم نموده شرطنامه را ملاحظه میتوانند . تضمین طبق صراحت قانون نقداً اخذ میگردد. هکذا ذریعه کاپی هذا برای آخرین بار به اطلاع مسولین محترم شرکت لوژستیکی جمشیدی قراردادی قبلی نیز رسانیده میشود. قبل از برگزاری جلسه داوطلبی جایداد متذکره به مدیریت عمومی مالی مرجعه و تمام مکلفیت های تادیاتی خویش را از سلسله آن مدیریت محترم تصفیه نموده مقام ریاست را رسماً اطمینان بخشید. درغیر آن حق اشتراك در مجلس داوطلبی را نداشته ، آنگاه حق شکایت را ندارند. همچنان از ریاست محترم تدارکات وزارت محترم مالیه توقع بعمل میآید تا مطالب فوق را ازطریق سایت های تدارکاتی شان به اذهان عامه رسانیده درنهایت ممنون سازند.

### به اعلان سپردن دو باب مغازه نمبر ٦ و ۷ واقع منزل تحتانی ۱۴ منزله سینما پامیر

ریاست عمومي املاك دولتی وزارت مالیه دو باب مغازه نمبر ٦ و ۷ به مساحت مجموعی ۲۱۰.۹ متر مربع واقع منزل تحتانی ۱۴ منزله سینما پامیر را بشکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی سپروده است.

اشخاص حقیقی وحکمی که خواهان اشتراك در پروسه داوطلبی جایداد های فوق را داشته باشند، میتوانند سر از تاریخ ٢٤ سنبله الی مدت (۲۱) روز درخواستی های شان را به ریاست محترم عمومی املاك دولتی واقع تعمیر ١٤ منزله سینما پامیر ، منزل هفتم مدیریت عمومی قراردادهای مرکز تسلیم نموده، وبعداز ملاحظه اسناد شرطنامه را دربدل مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمایند.

SHTAMANAI

## د عوايدو عمومي رياست سلگونو بستونو له نوماندانو اينټرويو ازموينه واخيستل سوه



د ماليې وزارت د عوايدو عمومي رياست له لوري د کابل په شمول ۳۴ ولايتونو کي د (۱۰۵۸) اعلان سوو بستونو له نوماندانو د اينټرويو ازموينه په بېلابېلو وختونو کې د ياد رياست له لوري د گمرکونو ملي اکاډمۍ په تالار او د هيواد په ځانگړي سو زونونو کي د لسگونو څارندويانو له لوري په رڼه ډول واخيستل سوه.
د ماليې وزارت د عوايدو عمومي رياست څو مياشتې وړاندې د کابل په گډون په ۳۴ ولايتونو کي د اصنافو د تثبيت کارکوونکي ۱۰۵۸ قراردادي بستونه د ازادي سيالۍ ازمويني اخيستو په موخه اعلان ته سپارلي وو، چي ۳۶۰۰۰ تنه نوماندانو دغو بستونو نوم ليکنه کړي وه، چي له دې ډلي يې ۱۸۰۰۰ تنه شارټ ليسټ، ۹۰۰۰ کسان په شرايطو برابر او له چاڼ وروسته ۷۸۰۰ کسان د ځانگړي لينک له لارې په شرايطو برابر وبلل سول، چي ازموينه يې واخيستل سوه.
همدا شان له ذکر سوي شمېر څخه ۲۵۲۷ تنه د ازمويني له اخيستو وروسته بريالي وپېژندل سول، چي ۱۰۵۸ تنه به په همدغو تشو بستونو کي ځای پر ځای او ۲۹۰ تنه نور به په ريزرف بڼه پاتي وي، چي شرايطو ته په کتو سره به له دغو کسانو څخه کار واخيستل سي.
د يادوني وړده، چي د دغو بستونو ازموينه د عوايدو عمومي رياست او د ازمويني ملي ادارې په همکارۍ په تحريري بڼه په کابل او ټاکل سوو زونونو کي د تېرې جمعې په ورځ د سنبلې په ۱۰مه نېټه واخستل سوه او پايله يې د دوشنبې په ورځ اعلان سوه، چي له هغه وروسته د انټرويو لپاره د عوايدو لوی رياست لخوا اړوندو زونونو ته ټيمونه هم واستول سول.

# له کسبگرو او دوکاندارانو څخه د ماليې وزارت ملاتړ غونډې ته د عوايدو د لوی رئيس معراج محمد معراج وينا

د قدر وړ مشرانو، علماوو، او د اصنافو محترمو نمايندهگانو او مالکينو! السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته؛
د مشرانو د پيرزويني نتيجه ده، چي لله الحمد د هيوادوالو لپاره ضروري او اړين خدمتونه وړاندي کوو. مالياتي نورم مو د اصنافو لپاره له يو اعشاريه پنځه څخه صفر اعشاريه پنځه ته را ټيټ کړ. پدې معنی چي اصنافو پخوا کومه ماليه ورکوله اوس صرف د هغې درېيمه برخه ورکوي. همدا رنگه به ماليه د مالياتي مکلفيت څخه په زياته اندازه نه اخيستل کيږي، د مالياتي تثبيت پروسه به شفافه او عادلانه وي، په کومو اصنافو چي پخوا په ناسمه توگه ماليه تثبيت شوي وي هغه به را کمېږي او له دې سره سره کوم اصناف چي د تېرو کلونو په جريان کي يې خرڅلاو راکم شوی دئ په نظر کی نيول کيږي او د معيار سره سم به د هغوی مالياتي مکلفيت راکميږي. د اصنافو ماليه به د دوی د خرڅلاو د محاسبې له مخي ټاکل کيږي. د محاسبې او تاديې پروسه يې واضحه ده او په دې اړه به د اصنافو مالکينو ته معلومات ورکول کيږي.
دا خو ټولو ته واضحه ده، چي د ماليې ورکړه د هغه چا لپاره چي معيار يې پوره کړی وي يوه الزامي ورکړه ده او اجتماعي او ملي مکلفيتونه د دې ايجاب کوي، چي د هيواد وگړي د خپلو اقتصادي معاملاتو د کچې په اندازه خپله مالياتي وجيبه ترسره کړي او د عامه خلکو د ژوند په پيشرفت کي د خپلي جامعې په پرمختگ او په ټوله کي د هيواد په پرمختگ کي سهيم و اوسي. پدې سره به د عامه خدمتونو لړۍ لا بهتره شي او د خلکو لاسرسی به عامه خدمتونو ته ډېر شي. بيا هم هر هغه څوک چي کلني عوايد يې له يو لک او پنځوس (۱۵۰۰۰۰) کم دي د ماليې له ورکړې څخه معاف دئ.
د عوايدو لوی رياست او اړوند رياستونه د ماليه ورکونکو لپاره لاندي وړيا خدمتونه وړاندي کوي:
- د فورمونو اخيستنه؛
- د ماليې د محاسبې او ورکړې د فورمو په ډکولو کي هر رنگه تخنيکي مرسته؛
- د خپلي ماليې د سنجش په هکله معلومات؛
- او د مربوطه مسايلو په هکله وضاحت.
د عوايدو مربوطه رياستونه هڅه کوي، چي د ماليې ورکړه اسانه کړي، خدمات لابهتره او موثره کړي، په دې اړوند يې کاري پروسو کي شفافيت راوستی، د ماليې ورکونکو سره ښه چلند لپاره يې په دوامداره توگه خپلو کارکونکو ته امر کړی، د معلوماتو د موثقيت لپاره سيستم فعاله دئ او د لا ښه کيدو هڅه يې کيږي.
د اچي په ټول افغانستان کي د اصنافو د مالياتو د تثبيت پروسه شروع سوې، د دې لپاره چي د اصنافو ټولو ماليه ورکونکو ته په ښه توگه رسيدنه وشي او د دوی ماليه په صحيح شکل محاسبه شي په کافي تعداد کارکونکي استخدام شوي دي، په ټول افغانستان کي د اصنافو د ماليې د ثبيت لپاره له زرو څخه زيات کارکونکي او د کابل لپاره ۳۵۶ کارکونکي استخدام شوي دي. نوموړي کارکونکي د لويې دورې او د ليسانس سندونه او تر هغه لوړ سندونه په لاس کي لري، د امتحان پروسه يې په شفاف ډول د امتحاناتو د ملي ادارې له خوا په مرکز او ولاياتو کي واخيستل شوه، چي د امتحاناتو د ملي ادارې له مشرتابه او همکارانو څخه منندوی يوو.
د اصنافو د ماليې د تثبيت کارکونکي په مرکز او ولاياتو کي د يوې اونۍ لپاره تخنيکي تريننگ او زده کړه کوي او بيا عملي کار پيلوي، هيله مو داده چي د اصنافو محترم ماليه ورکونکي هم په خپل وار په دې ملي پروژه کي برخه واخلي او د يادو کارکونکو سره د خپل صنف د تثبيت په پروسه کي لازمه همکاري وکړي. اټکل کيږي، چي د اصنافو د مالياتو په راټيټولو سره د دولت پر عوايدو منفي تاثير نه غورځي او يوه اندازه له دې امله زياتيږي، چي د تثبيت پروسه له څو کلونو راپاته ده او يو تعداد اصناف له تثبيت څخه پاته دي. لدې امله به د اصنافو د عوايدو کچه په کلني ډول له صفر اعشاريه نهه مليارده څخه يو اعشاريه پنځه مليارده ته لوړه شي.
د يادونې وړ ده، چي د مالياتي نورم راکمولو دا اقدام به د کاري فرصتونو په ډېرولو کي رغنده رول ولوبوي. د مالياتي بار په راکمولو سره به ډېر هيوادوال پدې برخو کي په مستقيم او غير مستقيم ډول شريک سي او له دې خوا څخه به مالي وجوه لاسته راوړي. د اصنافو د مالياتو راکمول د اصنافو له خوا د اجناسو په قيمتونو کي د پام وړ تغير راولي.
په پای کي غواړم د رياست الوزراء له محترم مقام او محترمو معاونينو، د ماليې وزارت د محترم مقام، د عوايدو او گمرکاتو له محترم معين صاحب، د ماليې وزارت له مختلفو رياستونو او د افغانستان د امتحاناتو د ملي ادارې او له نورو مربوطه ادارو څخه مننه وکړم چي د اصنافو د تثبيت د پروسې په پيلولو کي يې زموږ سره پوره مرسته وکړه.

**و من الله التوفيق**

## روند ثبت و محصول موتر های بدون اسناد در کشور آغاز شد



کنفرانس خبری آغاز روند ثبت و محصول موتر های بدون اسناد در خیبرهال وزارت مالیه برگزار گردید، در این کنفرانس عبدالرحمن وقاد رئیس پلان، پالیسی، نظارت و ارزیابی ریاست عمومی گمرکات، احمد ولی حقمل، رئیس ارتباط و آگاهی عامه وزارت مالیه، شماری از مسئولان و رسانه ها حضور داشتند.

احمد ولی حقمل، رییس ارتباط و آگاهی عامه وزارت مالیه در مورد آغاز روند ثبت و محصول موترهای بدون اسناد گفت: که تعداد زیادی موترهای بدون اسناد در کشور وجود دارد، که اکثر اوقات باعث ایجاد حوادث امنیتی و جنایی می شود و عدم تحویل مالیات قانونی این موترها به دولت منجر به فرار از عواید ملی می شود؛ اما در صورت تطبیق پلان ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه، مشکلات در بخش های امنیتی و ترافیکی برطرف شده، عواید ملی افزایش یافته و مشکلات اقتصادی و اجتماعی مردم نیز کاهش خواهد یافت.
عبدالرحمن وقاد، رئیس پلان، پالیسی، نظارت و ارزیابی ریاست عمومی گمرکات، طی ارائه معلومات تخنیکی در مورد آغاز روند ثبت و محصول موترهای بدون اسناد گفت: موترهای بدون اسناد که در کشور موجود و یا در مدت زمان معین وارد کشور شوند، بر اساس طرح ذکر شده از جریمه های قبلی گمرکی و ترافیکی معاف می باشند، ۶۰٪ تخفیف از مدل ۱۹۹۰ الی مدل ۲۰۰۰، ۵۰٪ تخفیف از مدل ۲۰۰۱ الی مدل ۲۰۰۹، ۲۵٪ تخفیف از مدل ۲۰۱۰ الی مدل ۲۰۱۲، ۰٪ تخفیف از مدل ۲۰۱۳ الی مدل ۲۰۲۲ و تخفیف های گوناگون دیگر سالانه نیز برای ایشان مدنظر گرفته شده است. قابل یادآوری است که طرح مذکور روند ثبت و محصول موتر های بدون اسناد به مدت شش ماه تصویب شده است که فقط موترهای دارای مسیر قانونی افغانستان از سوی ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه در تمام گمرکات ثبت و محصول میشوند و بعد از شش ماه به هیچ وجه این روند قابل تمدید نیست.

## د يو شمېر وارداتي اقلامو د تعرفې په اړه پرېکړې وسوې

د تعرفې کمېټې ناسته دگمرکونو او عوايدو معين ښاغلي ملا محمد ناصر اخند په مشرۍ د ياد معينيت د غونډو په تالار کي جوړه سوه.
په دې ناسته کي چي د تعرفې کمېټې غړو تر څنگ د گمرکونو لوی رئيس ښاغلي مفتي عبدالمتين سعيد، د ماليې وزارت مقام سلاکار ښاغلي خليل صالحزاده دگمرکونو لوی رياست مرستيالانو او يو شمېر رئيسانو گډون کړی وو.
په پيل کي د گمرکونو او عوايدو معين ټولو گډونوالو ته ښه راغلاست وويل او د تعرفې کمېټې له غړو څخه يې غوښتنه وکړه، چي په دې کمېټه کي ټولي پرېکړې د الله جل جلاله د رضا او د ولس د هوساينې لپاره ونيسي.
له اجنډا سره سم دگمرکونو لوی رياست د تعرفې رئيس د فوم، پي وي سي، لبنياتو او ژونديو چرگانو د وارداتي تعرفو په اړه هر اړخيز معلوماتي پريزنټيشن وړاندي کړ او د يادو اقلامو د تعرفې په اړه يې د سوداگرو، صنعتکاراتو او د اړوندو ادارو غوښتني د غونډې له گډونوالو سره شريکې کړې.
د تعرفې کمېټې غړو د يادو اقلامو پر تعرفې هر اړخيز بحث وکړ او له کورني توليد څخه د ملاتړ، سوداگريزی ودې او د دولتي عوايدو د زياتوالي اصل ته په کتو يې په اړه اړينې پريکړې وکړې.
همدا شان په دې کمېټه کي د بکسونو اجزاء او قطعاتو، د وېښتانو رنگ او د مستعملو برښنايي وسايلو لپاره د نوو ملي کوډونو پر جوړېدو هم هوکړه وسوه.



**د امتياز خاوند:** د ماليې وزارت
**مسؤل مدير:** احمد ولي حقمل
**مرستيال:** محمد نبي سلطاني
**کتنپلاوي:**
ندا محمد صديقي
عبدالرحمن سجاد
ابراهيم گران
اجمل زاهد
**د خبر مدير:** داود نظري
**خبريال:** سيد مصطفی سروش
**د معلوماتو راټولوونکی:** محمد افضل الکوزی
**عکاس:** فضل احمد يوسفزی
**ډيزاينر:** محمد نسيم ظهوري

**د ماليې وزارت د لاسته راوړنو، خبرونو، کنفرانسونو، خبرتياوو، غونډو، داوطلبۍ اعلانونو، د املاکو د قراردادونو او نورو مالياتي مسايلو څخه د خبرېدا لپاره لاندي آدرسونه کتلای سئ:**

**ويبپاڼه: mof.gov.af**
**ټويټر: @afghanistanmof**
**يوټيوب: afghanistan mof**
**فيسبوک : د ماليې وزارت، وزارت ماليه**

**د شتمنۍ اوونيزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې بايد اقتصادي او د ماليې وزارت سره سمې وي.**
**له ټولو درنو همکارانو او د هېواد له ليکوالو هيله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښناليک magazine@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.**